اونيزه مجله: 336
WEEKLY BOOKLET:336

# امام احمد رضا د خواجه په در کښې

پاڼې 21




د بريلي شريف نه اجمير شريف 04
د خواجه صاحب اختيار 09
د خواجه صاحب په مزار د اعلیٰ حضرت درېدل 13
خواجه صاحب سره د اعلیٰ حضرت د خاندان محبت 16



پيشکش: مجلس المدينة العلمية
Islamic Research Center


په 5، رجبُ المُرَجَّب 1441هـ بمطابق 29 فروري 2020ء، د اتوار په شپه د مدني مذاکرې نه مخکښې شيخِ طريقت، اميرِ اهلسنّت حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د دعوتِ اسلامي په عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه کښې "اعلیٰ حضرت د خواجه په در کښې" موضوع باندې بيان فرمائيلې وو، چې د هغې په مدد دا رساله دنوي مواد د کافي اضافې سره مرتب کړے شوې ده.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# وړومبے دا اولولئ

**الله** پاک د خلقو د هدايت د پاره انبيائے کرام عَلَيْهِمُ السَّلَام راليږلي وو کومو چې خلقو ته صراطِ مُستقيم (يعني نيغه لاره) ښودله، د خَاتَمُ النَّبِيّٖنَ (آخري نبي) صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تشريف راوړلو نه پس د نبوت دروازه بنده شوه، صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ، تابعينو بيا د تبعِ تابعينو نه پس اولیائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم ټوله دنيا کښې د دينِ اسلام پيغام عام کړو. چرته د حُضور غوثِ اعظم شيخ عبد القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په برکتونو اسلام خور شو، او چرته د حُضُور داتا علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ذريعه د قرآن او سُنّت تعليمات عام شول، چرته د سُلطانُ الـهِند حُضُور خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ذريعه گمراهانو ته هدايت نصيب شو نو چرته امام اهل سُنّت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قرآن او سُنّت اِشاعت اوفرمائيلو. د هندوستان بے تاجه بادشاه، خواجه غريب نواز حسن سِجزي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د برصغير مشهور او معروف بزرګ دے، **اَلْحَمْدُ لِلّٰه!** دا کتاب د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په بارګاه کښې د حاضرئ او د هغوئي سره د عقيدت او محبت نه ډکو واقعاتو او اقوالو مجموعه ده. شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يو خو کاله مخکښې په دې موضوع باندې بيان فرمائيلے وو کوم چې د نورې اضافې او بدلون سره وړاندې کيږي. **الله** کريم دې مونږ ته د اوليائے کرامو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم رښتونے محبت او غلامي رانصيب کړي او د قيامت په ورځ دې مونږه د دوئي غلامان راپاځوي. اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ابومحمد طاهر عطاري عُفِيَ عَنْه

شعبه هفته وار رساله مطالعه (اسلامک رِيسرچ سينټر)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰه مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰه الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

# امام احمد رضا د خواجه په دَر کښې

دُعائے عطّار: یا **الله** پاکه! څوک چې دا رساله "امام احمد رضا د خواجه په دَر کښې" اولولي یا واوري هغه ته د خپلو وَلیانو ادب نصیب کړې او د هغوئي په تعلیماتو د عمل کولو توفیق ورکړې او هغه سَره د مور و پلار بے حسابه اوبخښې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی الله علیه واٰله وسلّم

## د دُرُود شریف فضیلت

صحابيِ رسول، حضرت عبدُ الله بن عباس رضی الله عنهما فرمائي: چې کله تاسو د **الله** پاک نه دُعا غواړئ نو په خپله دُعا کښې په نبيِ پاک صلّی الله علیه واٰله وسلّم باندې درود لولئ ځکه چې په حُضُور صلّی الله علیه واٰله وسلّم باندې دُرُودِ پاک خو قبول قبول دے او **الله** پاک د دې نه زیات کریم دے چې بعضې قبولې کړي او بعضې رَد کړي. (القول البدیع، ص420)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## کرامات د خواجه په ژبه د امام احمد رضا

اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رحمۃ الله علیه فرمائي: د حضرت سُلطانُ الهِند خواجه غریب نواز رحمۃ الله علیه د مزار نه ډیر فیض او برکتونه حاصليږي، مولانا برکات احمد صاحب مرحوم کوم چې زما پیر بهائي او زما د والد صاحب شاګرد وو هغوئي ما ته بیان کړل چې ما په خپلو سترګو اولیدل چې یو غیر مسلمه وو، چې په هغه باندې د سر نه واخله تر ښپو پورې غټې غټې دانې راختلې وې، **الله** پاک به ترینه خبر وي چې څومره [دانې پرې راختلې] وې. هغه غیر مسلمه به تیک د غرمې په وخت د خواجه

غریب نواز رحمۃُاللہِ علیہ مزار شریف ته راتللو او د دربار شریف مخې ته به په کرمو کاڼو ډېرې په ډېرې اَووښتو او ورسره ورسره به يې دا وئيل: کَھواجَہ آگن لگی (اے خواجه! سوزم، په بدن مې وور لګيدلے دے). په دريمه ورځ ما اوليدل چې هغه بالکل ټيک شوے دے.
(ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص384 ملخصاً)

د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ وورور حضرت مولانا حَسَن رضا خان رحمۃُاللہِ علیہ د خواجه غریب نواز په جناب کښې عرض کوي:

پھر مجھے اپنادرِ پاک دِکھادے پیارے　　آنکھیں پُر نور ہوں پھر دیکھ کے جلوہ تیرا

(ذوقِ نعت، ص28)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ما ته په اجمير شريف کښې حاضري ورکول دي

د بُرهانِ ملّت، حضرت مفتي محمد عبدُ الباقي رضوي جَبَل پوري رحمۃُاللہِ علیہ والدِ محترم حضرت مولانا عبدُ السّلام جَبَل پوري رحمۃُاللہِ علیہ اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنّت مولانا امام احمد رضا خان رحمۃُاللہِ علیہ ته په کال 1905ء کښې د دويم سفرِ حج نه په واپسئ بمبئ کښې جَبَل پور (ښار ته د تشريف راوړلو) دعوت ورړاندې کړو نو اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ اوفرمائيل: "اوس ما ته په اَجمير شريف کښې حاضري کول دي"، د اَجمير شريف د حاضرئ نه پس به بريلي شريف ته ځم. اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! بيا به چرته جبل پور ته درشم. (اکرامِ امام احمد رضا، ص78، 82)

## د خواجه په عُرسِ باندې بيان

د اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رحمۃُاللہِ علیہ د خواجهٔ خواجګان، سُلطان الـهِند، حضرت خواجه غريب نواز رحمۃُاللہِ علیہ سره بے حده عقيدت وو، هغوئي د خواجه غريب نواز رحمۃُاللہِ علیہ په بارګاه کښې حاضري هم کړې ده بلکې د اعتماد قابل تاريخي کتابونو نه دا خبره ثابت ده چې

# د امام احمد رضا د بیان کشش

د سُلطان الـهِند، حضرت خواجه غریب نواز رحمۃ اللہ علیہ د مزار په خوا کښې به د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ بیان کیدلو او د دې بیان اهتمام به پخپله د مزار شریف "دیوان صاحب (یعني مشیر صاحب)" کولو، د دې بیان د اوریدو د پاره به د لرې لرې نه خلق او علمائے کرام بلکې بعضې ځل به د دَکن حکمرانان هم راتلل.

(معارفِ رضا سالنامه 1983، ص 157)

# د بریلي شریف نه اجمیر شریف

د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د مبارک ژوند د آخري ورځو "د اجمیر شریف د سفر" یوه بَله ایمان تازه کوونکې واقعه علامه نور احمد قادري، د خپل نیکه، د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د مرید حاجي عبدُ النّبي قادري رضوي رحمۃ اللہ علیہ نه نقل کوي.

دا ځل چې کله اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د بریلي شریف نه اجمیر شریف ته د خواجه غریب نواز رحمۃ اللہ علیہ په عرس کښې د حاضرئ د پاره تللو نو هغوئي سره لس یوولس مُریدان هم وو: یو د نیکه بابا (حاجي عبدُ النّبي قادري رضوي رحمۃ اللہ علیہ) استاذِ محترم مولانا شاه عبدُ الرحمان قادري جے پوري (د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ شاګرد او خلیفه) او نور پخپله نیکه بابا جان حاجي عبدُ النّبي قادري رحمۃ اللہ علیہ او د دوئي سره بعضې نور حضرات وو.

د دهلي نه به د اجمیر شریف پورې د تللو د پاره " بي، بي اینډ سي آئي آر" ریل ګاډے تللو، چې کله دا ریل ګاډے "پُهلیره سټیشن" ته اورسیدو نو ماښام ته به وخت نزدې وو، "پُهلیره"په هغه وخت کښې ډیر لوئې ریلولے سټیشن وو، چرته چې به د سَانبَهر، جودهـ پور او بِیکانیر نه راتلونکې ګاډې هم کراس کیدل. د دې ټولو لائنونو نه راتلونکې مسافر به اجمیر شریف ته د تللو د پاره دغه ریل ګاډې کښې تلل، ځکه به دغه ریل ګاډے په پُهلیره سټیشن باندې تقریباً څلویښت منټه اودریدو، ما پخپله اجمیر شریف ته د حاضریدو د پاره په دې ګاډې کښې ډیر ځل سفر کړے دے او د پُهلیره سټیشن حال مې لیدلے دے.

## ریل ګاډے چې کله اودریدو

بهر حال! چې کله اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ سفر کولو نو پُهلیره سټیشن ته په رسیدو د ماښام د نـمونځ وخت شو، اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ خپلو مُریدانو ته اوفرمائیل: د ماښام د نـمونځ د پاره به جَمعه هُم په پلیټ فارم باندې کیږي، څادرې خورې کړے شوې او خلق د چا چې اودسونه نه وو هغوئي اودس اوکړو، اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ به اکثر په اوداسه کښې اوسیدو، هغوئي اوفرمائیل: زما اودس شته او د جَمعې ورکولو د پاره مخکښې شولو، بیا یـې اوفرمائیل چې تاسو ټول په ښه اطمینان سره نـمونځ ادا کړئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ګاډے به هیڅکله هم تر هغه وخته پورې نه روانیږي تر څو پورې چې مونږه نـمونځ په پوره طور ادا نه کړو.

## ریل ګاډے روان نشو

دا یـې چې اوفرمائیل نو اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ جَمعې ته مخکښې شو او نـمونځ یـې شروع کړو. د ماښام د نـمونځ یـې چې کله یو رکعت ادا کړو، نو یو دم ګاډې هارن اُووهلو، په پلیټ فارم باندې نور خواره واره مسافر په تادئ سره په ریل ګاډي کښې په خپلو خپلو سیټونو باندې کښیناستل. خو په هغوئي پسې د نـمونځ کوونکـو دغه ډله ښه په اِستِغراق (یعني خشوع وخضوع) سره په نـمونځ کښې مشغوله وه، د ماښام د فرض نـمونځ دویم رکعت کیدلو چې ګاډې آخري هارن هم اُووهلو، خو څه اوشو چې د ریل ګاډي انجن په وړاندې نه تللو. میل ګاډے وو، څه معمولي د سورلو ګاډے نه وو، ځکه ډرائیور او ګارډ ټول پریشانه شول چې آخر دا څه چل اوشو چې ګاډے مخکښې نه ځي! څوک پرې نه پوهیدل، د انجن ټیسټ کولو د پاره ډرائیور ګاډے پښا روان کړو نو ګاډے پښا روان شو، خو چې کله به یـې انجن مخکښې بوتللو نو انجن به اودریدو.

په دې کښې سټیشن ماسټر کوم چې انګریز وو، د خپلې کمرې نه بهر راووتو او پلیټ فارم ته راغے او ډرائیور ته یـې اووئیل چې انجن د ګاډي نه لرې کړه او بیا یـې

اوګوره، چې روانيږي که نه، هغه هُم داسې اوکړل نو ښه تيز روان شو خو چې کله يې د ريل ګاډي د ډبو سره اوتړو او هغه انجن يې سټارټ کړو نو بيا اودريدو او يو انچ هم مخکښې نه تلو، د ريل ګاډي ډرائيور او ټول خلق ډير حيران او پريشانه وو چې آخر دا څه قيصه ده چې انجن چې کله د ريل ګاډي سره اوتړل شي نو وړاندې نه ځي،

## د وليِ کامِل برکت

سټيشن ماسټر ګارډ، څوک چې د نـمونځ کوونکـو سره په خوا کښې ولاړ وو هغه پوښتنه اوکړه چې دا څه خبره ده چې انجن بيل کړې نو روان شي او چې د ډبو سره يې يو ځائے کړې نو بالکل په پټلۍ باندې جام شي او اودريږي! هغه ګارډ مسلمان وو، د هغه ذهن ته خبره راغله، هغه سټيشن ماسټر ته اووئيل چې زما په ذهن کښې دا راځي چې دا بزرګ څوک چې جَمعه ورکوي، ډير لوئي وَلِیُّ الله دے، يقيناً د دې نه علاوه بَله هيڅ وجه نشته.

تر څو پورې چې دا بزرګ او د دوئي ډله نـمونځ ادا نه کړي، دا ګاډے مشکله ده که روان شي، دا د **الله** پاک له طرفه د دې وَلِیُّ الله کرامت معلوميږي، بس اوس خو به د دوئي د نـمونځ ادا کولو پورې انتظار کول وي. سټيش ماسټر په دې خبره باندې پوهه شو او هغه اووئيل چې بے شکه هم دا خبره ښکاري، هغه د نـمونځ کوونکـو خوا له راغے او اودريدو او په نـمونځ کښې يـې چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللہِعَلَیْه او د هغوئي د مُريدانو د اِستِغراق او د خشوع و خضوع دا زړۀ راښکونکے منظر اوليدو نو ډير متاثره شو، انګريزي د هغه مورنۍ ژبه وو، هغه د اُردو او فارسۍ هم ماهر وو او په روانۍ سره به يـې په اُردو کښې خبرې کولې، د ګارډ سره دا ټولې خبرې هغه په اُردو کښې کولې.

## رښتونے مسلمان نـمونځ نشي قضا کولے

اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُاللہِعَلَیْه سلام اوګرځولو او په تيز آواز يـې دُرُود شريف اولوستو او په دُعا کښې مشغول شو، چې کله د دُعا نه فارغ شو نو سټيشن ماسټر (انګريز) ور

وړاندې شو او ډېر په اَدب سره يې هُم په اُردو کښې عرض اوکړو: حضرت! لږه تادي اوکړئ! دا ګاډے هُم ستاسو په عبادت کښې د مصروفه کيدو په وجه نه روانيږي.

اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ اوفرمائيل: دا د نـمونځ وخت دے، يو رښتونے مسلمان هم نـمونځ نشي قضا کولے، نـمونځ په هر مسلمان باندې فرض دے، فرض څنګه پريښودے شي؟ په سټيشن ماسټر باندې د اسلام روحاني هيبت راخور شو، اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ او د هغوئ مُريدانو چې په سکون سره کله نـمونځ ادا کړو او د دُعا کولو نه فارغ شول نو اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ خوا ته ولاړ انګريز سټيشن ماسټر ته اوفرمائيل: اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! اوس به ګاډے روان شي، مونږ ټول د نـمونځ نه فارغ شوي يو. دا يـې اوفرمائيل او د خپلو ټولو ملګرو سره په ګاډي کښې کښيناستلو، ګاډي هارن اُووهلو او روان شو، سټيشن ماسټر په خپل انداز کښې سلام اوکړو او احترام يـې اوکړو خو دې کرامت د هغه په ذهن او زړهٔ باندې ډېر زيات اثر اوکړو.

## د انګريز په زړهٔ کښې بې قراري

اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ خو اجمير شريف ته روان شولو خو سټيشن ماسټر په سوچ کښې پريوتو، ټوله شپه يـې په دې غور او فِکر کښې تيره کړه، هغه له خوب نه ورتلو، چې سحر شو، نو چارج يـې خپل ډپټي ته حواله کړو او د خپل خاندان د کسانو سره د حاضرئ د پاره د اجمير شريف په لور روان شو، د پاره د دې چې هلته د خواجه غريب نواز رحمۃ اللہ علیہ درګاه ته حاضر شي او د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ په لاس مبارک باندې اسلام قبول کړي.

## انګريز مسلمان شو

چې کله اجمير شريف ته اورسيدو نو اوئې کتل چې د دربار شريف په شاهجهاني جومات کښې د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ ايمان تازه کوونکے بيان جاري دے، هغه په بيان کښې شريک شو او چې کله بيان ختم شو نو ورنزدې شو او د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ لاسونه يـې ښکل کړل او عرض يـې اوکړو: د کله نه چې تاسو د پُهليره سټيشن نه دې طرف

ته راروان شوي يئ نو د هغه وخت نه زه دومره بېقراره يم چې ما له سکون نه راځي. آخر د خپل خاندان والؤ سره دلته حاضر شوم او اوس ستاسو په لاس مبارک باندې اسلام قبلول غواړم، ستاسو دا کرامت چې مې اوليدو نو زما د اسلام په رښتيا دين کېدلو پوره يقين اوشو او ما ته پته اولګېده چې بس هُم اِسلام د **الله** پاک رښتونے دِين دے.

## غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ سره د اعلیٰ حضرت محبت

اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ د دربار د زرګاؤ زيارت کوونکو په وړاندې هغه انګريز د کوم نوم چې رابرټ (Robert) وو او د هغه د خاندان نهه کسانو ته کلمه اووئيله او مسلمانان يـې کړل او د هغه اسلامي نوم يـې د غوثِ پاک په نوم "عبدُ القادر" کيښودو، هغوئي هغه د مسلمانولو نه پس په سلسلهٔ قادريه کښې خپل مُريد هم جوړ کړو او دا هدايت يـې ورته اوفرمائيلو چې

## د اعلیٰ حضرت نصيحت

"هميشه د اتباعِ سُنَّت خيال ساته (يعنې په سُنتو باندې عمل کوه)، نـمونځ يو وخت هم مه پرېږده، د نـمونځ او روژې پابندي ډېره ضروري ده او چې کله موقع په لاس درشي نو حج له ضرور لاړ شه او زکوٰة ادا کوه او هميشه د دِين د خدمت خيال ساته، اوس چې کله خپل وطن ته هم لاړ شې نو هلته هم د دِين د خپرولو فريضه ترسره کوه، دا ډېر لوئې سعادت دے. ښځې له هم د قرآنِ پاک تعليم حاصل کړه او خپلو ټولو خاندان والؤ ته هم د قرآنِ پاک تعليم ورکړه. بيا هغه نوے مسلمان شوے انګريز د قرآنِ کريم ختمولو نه پس د هندوستان نه خپل وطن ته واپس لاړو او هلته يـې د اسلام د خدمت د پاره خپل ځان وقف کړو.

(امام احمد رضا عظیم محسن عظیم کردار، ص14 تا17 ملخصاً، سالنامہ معارفِ رضا کراچی، ص157 تا 161 ملخصاً مطبوعہ 1983)

د **الله** رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

یا مُعینَ الدّین اجمیری! کرم کی بھیک دو　　از پئے غوث و رضا خواجہ پیا خواجہ پیا

(وسائلِ بخشش، ص536)

# په جُمعه کښې بیان

” (یو ځل) اجمیر شریف کښې د قیام په دوران کښې په اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ باندې د جُمعې ورځ راغله، اِعلان اوشو چې مجدّد دِین و ملّت اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ به د خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِ علیہ د مزار سره خوا کښې په شاهجهاني جومات کښې د جُمعې نه وړاندې د خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِ علیہ د ولایت په شان باندې بیان فرمائي، په هٔغه جُمعه خو کینتې مخکښې د نـمونځ کزارو د راتلو سلسله شروع شوه، تر دې چې جومات او خواؤ شاه ته ځایونه ډک شول، د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ بیان شروع شو، بیان شریف دومره ایمان تازه کوونکے وو چې حاضرینو ته یې ډیر زیات خوند ورکړو، بیا اعلان اوشو چې باقي بیان به د ماسخُتن د نـمانځه نه پس هم په دې جومات کښې کیږي، خلق خوشحاله شول، بیا اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ د ماسخُتن د نـمونځ نه پس بیان شروع کړو او د شپې تر ناوخته پورې بیان اوشو.

(سفر نامہ اعلیٰ حضرت، ص190 ملتقطاً و ملخصاً، ثنائے حضرتِ خواجہ بزبانِ امام احمد رضا، 2013ء، ص7 ملتقطاً و ملخصاً)

اللہ اللہ تبحُّرِ عِلمی اَب بھی باقی ہے خدمتِ قلمی
اہلِ سنّت کا ہے جو سرمایہ واہ کیا بات اعلیٰ حضرت کی

(وسائلِ بخشش، ص575)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د خواجه صاحب اختیار

اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ فرمائي: د (هندوستان د یو ښار) بهاګل پور نه به یو صاحب هر کال اجمیر شریف ته تللو. یو داسې مالداره ګس چا چې د اولیائے کرامو رحمۃُاللہِ علیہم ولایت او اختیار نه منلو. هغهٔ هغه ګس ته اووئیل: هر کال چرته ځې؟ بې ځایه هسې دومره روپۍ لګوې، هغه اووئیل: راځه! او د انصاف په نظر اوګوره! بیا ستا اختیار دے. خیر! یو کال هغه ګس ورسره راغے، اوئې کتل چې یو فقیر ډانګے په لاس د روضې مبارکې سره دا آواز کوي: ”خواجه پینځه روپۍ به اخلم او په یوه ګینټه کښې به یې دننه اخلم

او هم د يو ګس نه به يې اخلم.“ چې کله د هغه بدې عقيدې والا فِکر شو چې اوس ډير وخت تير شو، يوه ګينټه به شوې وي او تر اوسه پورې هغه له چا هيڅ نه دي ورکړي نو د جيب نه يې پينځه روپۍ راويستې او د هغه په لاس کښې يې کيښودې او اوئې وئيل واخله! تا د خواجه نه غوښتلې. خواجه به يې څه درکړي؟ واخله! مونږ يې درکوو. فقير هغه روپۍ په جيب کښې کيښودې او يو چکر يې اولګولو او په تيز آواز يې اووئيل: ”خواجه! ستا نه قربان شم چې راله وادې خستې نو هم د څومره بدې عقيدې والا ګس نه“. (ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص384، ملخصاً)

میں ہوں سائل میں ہوں منگتا یاخواجہ مِری جھولی بھر دو
ہاتھ بڑھا کر ڈال دو ٹکڑا یاخواجہ مِری جھولی بھر دو
جو بھی سائل آ جاتا ہے مَن کی مُرادیں پا جاتا ہے
میں نے بھی دامن ہے پَسارا یاخواجہ مِری جھولی بھر دو

(وسائلِ بخشش، ص568)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## حضرت معينُ الدين ضرور غريب نواز دے

د اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ علیہ نه پوښتنه اوشوه چې حضرت خواجه معين الدين سِجزِي رحمۃُ اللہِ علیہ د غريب نواز په لقب يادول جائز دي که نه؟ نو هغوئي اوفرمائيل: حضرت سلطانُ الهِند معينُ الحق والدِّين ضرور غريب نواز (دے). (فتاویٰ رضويه 105/29 ماخوذاً)

## په خوب کښې حاضري

اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ علیہ په ويښه د زيارت کولو سره سره په خوب کښې هم اجمير شريف ته حاضر شوے وو، هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي:

د ربیعُ الآخِر په مبارکه میاشت، کال 1302ھ کښې د سُلطانُ المَشائخ محبوبِ الٰہی رحمۃُاللہِعلیہ مزار شریف ته حاضر شوم، د دې نه دوه کاله مخکښې زما په ښئ سترګه کښې د لوستلو د کثرت په وجه څه کمزورې راغلې وه، ما تر څلویښتو ورځو پورې د ډاکټرانو نه علاج اوکړو خو هیڅ فائده اونشوه، بیا مې د سُلطانُ المَشائخ محبوبِ الٰہی رحمۃُاللہِعلیہ په تعریف کښې یو څو شعرونه اولیکل، د شپې چې کله اوده شوم نو په خوب کښې مې یو ښکلے ځائے اولیدو، د کوم نه چې یو اړخ ته جومات او بَل اړخ ته مزار شریف وو، چې ورنزدې شوم نو درې قبرونه مې اولیدل، د قبلې اړخ ته د خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِعلیہ او د هغې نه شاته د حضرت شاه برکت الله مارَهرَوِي رحمۃُاللہِعلیہ قبر شریف وو، دریم قبر ما اونه پیژندو. زه د خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِعلیہ د مزار کوز سر ته کښیناستم، څه ګورم چې قبر مبارک برسیره شو او خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِعلیہ د قبلې په لور مخ کړے دے او ملاست دے او مبارکې سترګې یې غړیدلې دي، حُلیه مبارکه یې څه داسې ده چې طاقتور، او لوړ [دنګ] قد، سور رنګ، غټې سترګې او د ګیرې ویښته یې تور دي، ما بے خوده (یعني د خپل ځان نه ناخبره) ورمنډه کړه او د قبر شریف د برسیره کیدو سره چې کومې خاورې بهر تشریف راوړے وو هغه مې په مخ او په سترګو پورې کړه او د سورةُ الکَهف تلاوت مې شروع کړو، چا منع کړم نو ما په زړهٔ کښې اووئیل چې د خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِعلیہ په مخکښې تلاوت کووم، دے ما ولې منع کوي؟ په دې کښې خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِعلیہ مُسکے شو، لکه ما ته چې اِشاره فرمائي چې هغه پریږده او تهٔ [سبق] لوله! بیا ما ته یاد نه دي چې آیت نمبر لسم یا شپاړسم ته رسیدلے ووم چې راویښ شوم، د **الله** پاک کرم اوشو چې څنګه مې خوب اولیدو فوراً مې د سترګې په مرض کښې کافي فرق راغے ما اووئیل دا د هغه مبارکې خاورې د مرلو برکت دے او د حضرت خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِعلیہ دا کرم نوازي راته د سُلطانُ المَشائخ محبوبِ الٰہی رحمۃُاللہِعلیہ د منقبت په وجه حاصله شوه. (قصیدهٔ اکسیرِ اعظم مع ترجمه، ص110 تا 114 ملخصاً)

د **اللّٰه** رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

تجھ کو بغداد سے حاصل ہوئی وہ شانِ رَفیع　　　دَنگ رہ جاتے ہیں سب دیکھ کے رُتبہ تیرا

(ذوقِ نعت، ص28)

## خليفۀ اعلیٰ حضرت، سيّد حُسين علي اجميري

د خليفۀ اعلیٰ حضرت، سيّد حُسين علي اجميري رحمۃُ اللّٰہ علیہ سلسلۀ نسب د خواجه غريب نواز رحمۃُ اللّٰہ علیہ نه د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت مولیٰ علي شيرِ خُدا رضی اللّٰہ عنہ ته رسي. د هغوئي د خواجه غريب نواز رحمۃُ اللّٰہ علیہ سره بے حده محبت وو او د مزار مبارک خدمت به يـې د ځان د پاره سعادت ګڼلو د عاجزئ په طور فرمائي: "که مونږه بد هم يو نو د خواجه غريب نواز يو" هغوئي د خواجه غريب نواز رحمۃُ اللّٰہ علیہ په سِيرت مبارک باندې يو کتاب په نوم د " **دربارِ چِشت اَجمير**"ليکلے دے، په کوم کښې چې د خواجه غريب نواز رحمۃُ اللّٰہ علیہ په دربار کښې د حاضرئ آداب ليکلے شوي دي. اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللّٰہ علیہ به د هغوئي ډير عزت او تعظيم کولو.

(تجليات خلفاءِ اعلیٰ حضرت، ص448 تا456 ملتقطاً و بتغير)

## د آقا صلّی اللّٰہ علیہ واٰلہٖ وسلّم د بارګاه نه د شهزاده په درګاه کښې

د غريب نواز رحمۃُ اللّٰہ علیہ په دربار کښې د اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللّٰہ علیہ د حاضرئ ډيره ښکلې واقعه د اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللّٰہ علیہ خليفه سيّد حُسين علي اَجميري ډير په ښکلي انداز کښې په خپل کتاب "**دربارِ چِشت**" کښې ليکي:

[هغوئي ليکي چې] زما پير او مرشد، مُجَدِّدِ دين ومِلّت، اعلیٰ حضرت، مولانا امام احمد رضا خان صاحب رحمۃُ اللّٰہ علیہ هم دوه ځله د خواجه غريب نواز دربار ته حاضر شوے دے. د اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللّٰہ علیہ د دويم ځل حاضري په خاص طورقابِلِ ذکر ده.

هغوئي چې په 1325ھ کښې د حج او [د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مزار مبارک د] زيارت د سعادت حاصلولو نه پس د هندوستان د سمندر په غاړه کوز شو نو د مختلفو ښارونو نه د هغوئي سره مينه لرونکي بمبئ ته اورسيدل او د ډيرو ځايونو نه پيغامونه راغلل چې تاسو زمونږ خوا ته کرم اوفرمايئ! خو هغوئي نيغ د خواجه غريب نواز (رَحمۃُ اللہِ علیہ) آستانې ته حاضر شولو. د خواجهٔ عالَم حُضُور اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دربار مبارک (مدينهٔ پاک) د حاضرئ نه پس د هغوئي د شهزاده حضرت خواجهٔ هند دربار ته حاضر شو. دا حاضري دومره د عقيدت او محبت والا وه چې زمونږه د آستانې د خادمانو او د اجمير د ټولو مسلمانانو په زړونو باندې نقش شوه. تر اوسه پورې په مونږ خادمانو کښې هغه حاضري مشهوره ده. (دربارِ چشت، ص33 بتغير وتسهيل)

## د خواجه په مزار باندې د اعلیٰ حضرت دريمه

اعلیٰ حضرت رَحمۃُ اللہِ علیہ به خپل خليفه، حضرت سيّد حُسين علي اَجميري رَحمۃُ اللہِ علیہ د خواجه غريب نواز رَحمۃُ اللہِ علیہ په دربار کښې د حاضرئ په وخت خپل دُعاګو وکيل (يعني دعا کوونکے) جوړولو او دوه ځله يې د هغوئي په کور (يعني اجمير شريف) کښې قيام هم کړے وو. د اعلیٰ حضرت رَحمۃُ اللہِ علیہ په وفات باندې هم هغوئي رَحمۃُ اللہِ علیہ د دريمې لوئي انتظام په آستانهٔ عاليه خواجهٔ خواجګان خواجه غريب نواز رَحمۃُ اللہِ علیہ کښې د سحر د نـمونځ نه پس اوکړو، چې پکښې د قرآنِ پاک ډير ختمونه اوشول او په آخره کښې لنګر هم تقسيم شو. د اعلیٰ حضرت رَحمۃُ اللہِ علیہ د عُرس په موقع باندې به حضرت سيّد حُسين علي اَجميري رَحمۃُ اللہِ علیہ د اَجمير شريف نه د قافلې په شکل کښې (بريلي شريف ته په مزار مبارک باندې د غوړولو د پاره) څادر راوړلو.

سيّدي اعلیٰ حضرت رَحمۃُ اللہِ علیہ هغوئي ته په سلسلهٔ چشتيه کښې خپل خلافت هم عطا کړے وو. د هغوئي رَحمۃُ اللہِ علیہ مزار شريف په اَجمير شريف کښې په "اَنا ساګر ګهاټې [يعني د دوؤ غرونو ترمينځه دره]" کښې دے.

(تجلياتِ خلفاء اعلیٰ حضرت، ص456 تا462 ملتقطاً و بتغير)

## د خواجه د دربار خادمان غمژن

اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ چې کله وفات شو نو د ملک د مختلفو ښارونو په شان په اجمیر شریف کښې هم د اهتمام سره د هغوئي دریمه اوکړے شوه، د هغوئي په وفات باندې د خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِ علیہ د دربار خادمان او مُریدان ډیر زیات غمژن شول.

(تجلیاتِ خلفاء اعلیٰ حضرت، ص 458، 459 ملخصاً)

اللّٰہُ غنی! شانِ ولی! راج دلوں پر دُنیا سے چلے جائیں حکومت نہیں جاتی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د خواجه په مزار کښې دُعا قبلیږي

د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ والد محترم حضرت علامه مولانا مفتي نَقي علي خان رحمۃُاللہِ علیہ په خپل کتاب ''اَحسَنُ الوِعَاءِ لِآدَابِ الدُّعَاءِ'' کوم چې مکتبة المدینه د ''**فضائلِ دُعا**'' په نوم چاپ کړے دے، د دې کتاب شرح پخپله اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ کړې ده او په ډیرو ځایونو کښې یې اضافه هم فرمائیلې ده، د دې کتاب په صفحه نمبر 128 باندې ''**باب اَمکِنهٔ اِجابَت** (یعنې د دُعا قبلیدو ځایونه)'' کښې په مقام نمبر 39 باندې اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ لیکلي دي چې ''مَرقدِ مُبارک حضرت خواجه غریب نواز مُعِینُ الحَقِّ وَالدِّین چشتي رحمۃُاللہِ علیہ'' (یعنې د خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِ علیہ په مزار کښې دُعا قبلیږي.)

(فضائل دعا، ص 138 ماخوذاً)

## اجمیر شریف

د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ نه د اجمیر شریف په باره کښې یوه پوښتنه اوشوه، د کومې په جواب کښې چې هغوئي ډیره ښکلې خبره ارشاد کړه:

اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ فرمائي: ''د اجمیر شریف'' د پاک نوم سره (قصداً عمداً د عادت په طور) لفظ ''شریف'' نه لیکل که په دې وجه وي چې د خواجه غریب نواز رحمۃُاللہِ علیہ دې

ښار ته د راتللو، د ژوند مبارک تیرولو او د مزار شریف عظمت او د برکت ځائے نه منې نو ګمراه (یعنې د نیغې لارې نه بے لارې کیدل دي) بلکې عَدُوُّالله (یعنې د **الله** پاک دښمن) دے.

د بُخاري شریف په حدیثِ پاک کښې دي: رَسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: **الله** پاک فرمائي: چا چې زما د کوم دوست سره دښمني اوکړه د هغه خلاف زما اعلانِ جنګ دے.'' (بخاری، 248/4، حدیث:6502) او که د خواجهٔ خواجګان رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د غلام جوړیدو نه د انکار کولو وجه تکبُّر وي نو هُم هغه ګمراه (یعنې د حق لارې نه بے لارې شوے دے) او د تیر حدیث د حکم مطابق عَدُوُّالله (یعنې د **الله** پاک دښمن) دے او د هغه ځائے دوزخ دے، **الله** پاک په قرآنِ کریم کښې ارشاد فرمائي:

اَلَیْسَ فِیْ جَهَنَّمَ مَثْوًی لِّلْمُتَكَبِّرِیْنَ ﴿۶۰﴾ [مفهوم] ترجمهٔ کنزالایمان: آیا د تکبر کوونکي ځائ په دوزخ کښې نۀ دے.

(پ24، الزمر:60)

(فتاویٰ رضویه، 265/15 ملخصاً)

اپنی منزل سے کبھی بھی وہ بھٹک سکتا نہیں / جس کے تم ہو رہنُما خواجہ پیا خواجہ پیا

ایک ذرّہ ہو عطا عطّار کے ہو جائیگا / خواجہ! گھر بھر کا بھلا خواجہ پیا خواجہ پیا

(وسائلِ بخشش، 538، 539)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د عربئ شَجَرې د سند په شکل کښې القاباتِ غریب نواز

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د سلسلۀ قادریه چشتیه نظامیه بَرَکاتیه شجره د حدیث د سند په شکل کښې لیکلې ده او په دې کښې یې خواجه غریب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په پینځه القاباتو یاد فرمائیلے دے: (1) اَلسَّیِّدُ الاَجَل (یعنې د وخت ډیر لوئې امام) (2) سُلطانُ الهِند (یعنې د هندوستان بادشاه) (3) حبیبُ الله (یعنې د **الله** پاک محبوب بنده) (4) وارِثُ النَّبِی

(يعني د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم وارث) (5) مُعينُ الدِّين (يعنې د دِين مدد کوونکے)
اَلجشتی، اَلسِّجزِی، اَلاَجمیری رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه. (تاريخ وشرح شجره قادريه بركاتيه رضويه، ص119)

خواجۂ خواجگان غریب نواز ' غریب نواز قبلۂ عارفاں! غریب نواز ' غریب نواز
سیدِ زاہداں! غریب نواز ' غریب نواز زینتِ عارِفاں! غریب نواز ' غریب نواز
مُرشِدِ ناقِصاں! غریب نواز ' غریب نواز رہبرِ کامِلاں! غریب نواز ' غریب نواز
ہادِیِ گمرہاں! غریب نواز ' غریب نواز مصلحِ عاصِیاں! غریب نواز ' غریب نواز
حامیٔ بے کَساں ! غریب نواز ' غریب نواز ہیں کَسِ بے کَساں! غریب نواز ' غریب نواز
اے شہِ صالحاں! غریب نواز ' غریب نواز ہم پہ ہوں مہرباں! غریب نواز ' غریب نواز
(وسائلِ فردوس، ص62)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## صدرُ الشَّريعَه اجمير شريف کښې صَدرُ المُدرِّس

خليفهٔ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه، حضرت علامه مولانا مُفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دربار کښې حاضر شو او د کال 1925ء نه تر کال 1933ء پورې کم او زيات تر اتۀ کالو پورې يې په دَارُ العلوم مُعِينيه عُثمانيه کښې د صَدرُ المُدَرِّسين (يعني د ټولو نه د لوئي اُستاذ) په حيثيت د عِلمِ دِين درس ورکولو.
(سيرتِ صدر الشريعه، ص48)

## د خواجه صاحب سره د اعلیٰ حضرت د خاندان محبت

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وفات شريف نه پس د هغوئي شهزادګان حُجَّةُ الاِسلَام، مولانا شاه حامد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او حُضُور مفتي اعظم هند مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هر کال د خواجه غريب نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قُل (يعني عُرس) په موقع په

باقاعدګۍ سره حاضريدل، که هغوئي به د ملک په هر ځائے کښې وو خو په شپږم رجب به د هغوئي حاضري اجمير شريف کښې ضرور بِالضّرور کيدله.
(خواجہ غریب نواز اور ایک غلط فہمی کا ازالہ ‘ص 7 ماخوذاً)

## د غريب نواز باغ

خليفۀ اعلیٰ حضرت صدرُ الاَفاضِل حضرت مولانا نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رحمۃُاللہِ علیہ د خواجه غريب نواز رحمۃُاللہِ علیہ په سيرت باقاعده يو کتاب په نوم د ''گُلبُنِ غريب نواز'' [يعني ''د غريب نواز باغ''] ليکلے دے. (تذکرۃ الافاضل، ص 20)

## د غريب نواز په دربار کښې د اعلیٰ حضرت يو بَل خليفه

د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ يو بَل خليفه شيخُ الاَصفِيا سيد غلام علي اَجميري رحمۃُاللہِ علیہ خپل ټول ژوند د سلطان الـهِند حضرت خواجه مُعينُ الدين چشتي رحمۃُاللہِ علیہ په تعليماتو عام کولو کښې تير کړو، تر دې چې د هغوئي مزار شريف هم د خواجه غريب نواز رحمۃُاللہِ علیہ د مزار شريف سره خوا کښې هديره کښې دے، اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ به د هغوئي سره په دې وجه باندې ډير محبت کولو چې هغوئي د خواجه غريب نواز رحمۃُاللہِ علیہ د مزار شريف خادم وو. (تجليات خلفاء اعلیٰ حضرت، ص 471)

## د اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ خلافت

اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ د خپل ژوند مبارک په آخري ورځو کښې په 13 جُمادَی الآخِرة 1338 هجرئ کښې د جُمعي مبارکې په ورځ سيّد غلام علي اَجميرى رحمۃُاللہِ علیہ ته خپل خلافت عطا کړو. [1] (تجليات خلفائے اعلیٰ حضرت، ص 472)

[1] ... د اجازت او خلافت د ليک عکس د کتاب په آخره کښې اوګورئ.

## سلسله چشتیه نظامیه برکاتیه

پروفیسر مجیدُ الله قادري صاحب لیکي: تلمیذ، مُرید او خلیفهٔ مجاز مفتي اعظم هند، حضرت علامه مولانا عبدُ الـهادي قادري رضوي نوري دامظلُّه سره مې د امام احمد رضا خان رحمةُاللهِعلیه په لیکلے شوو شجرو باندې خبرې کیدلې، په دې باندې هغوئي اووئیل چې اعلیٰ حضرت رحمةُاللهِعلیه ته چې د مارَهرَه شریف نه په کومو دیارلسو سلسلو کښې خلافت او اجازت وو په هغې کښې یوه سلسله "چشتیه نظامیه برکاتیه" هم ده او اعلیٰ حضرت رحمةُاللهِعلیه به په دې سلسله کښې بعضې خلق هم بیعت کول او د هغوئي په خواهش باندې یې د اردو منظوم شجره سلسله چشتیه نظامیه برکاتیه هم لیکلې وه. په بارګاهِ الٰهی کښې د خواجه غریب نواز رحمةُاللهِعلیه په وسیله په دې شجره کښې اعلیٰ حضرت رحمةُاللهِعلیه څه داسې لیکي:

مُرشدانِ چِشت کی سچّی غلامی کر نصیب    شہ معینُ الدّین چشتی باخُدا کے واسطے

(تاریخ وشرح شجره قادریه برکاتیه رضویه، ص98)

## د حضرت خواجه غریب نواز منقبت

د اعلیٰ حضرت رحمةُاللهِعلیه مشر ورور مولانا حسن رضا خان حسنؔ رحمةُاللهِعلیه د سلطان الـهِند، حضرت خواجه معینُ الدّین چشتي اجمیري رحمةُاللهِعلیه په منقبت کښې نورلس شعرونه لیکلي دي، الله پاک د هغوئي دې منقبت ته قبولِ عام عطا کړے دے، په عوامو او خواصو کښې دا منقبت ډېر په ذوق او شوق سره لوستلے او اوریدلے شي.

خواجۂ ہند وہ دَربار ہے اَعلیٰ تیرا    کبھی محروم نہیں مانگنے والا تیرا
مَے سر جوش در آغوش ہے شیشہ تیرا    بیخودی چھائے نہ کیوں پی کے پیالہ تیرا
خُفتگانِ شبِ غفلت کو جگا دیتا ہے    سالہا سال وہ راتوں کا نہ سونا تیرا
ہے تِری ذات عَجَب بحرِ حقیقت پیارے    کسی تیراک نے پایا نہ کنارا تیرا
جورِ پامالیٔ عالم سے اِسے کیا مطلب    خاک میں مل نہیں سکتا کبھی ذرّہ تیرا

کس قدر جوشِ تَحیُّر کے عَیاں ہیں آثار نظر آیا مگر آئینہ کو تلوا تیرا
گلشنِ ہند ہے شاداب کلیجے ٹھنڈے واہ اے اَبرِ کرم زور برسنا تیرا
کیا مہک ہے کہ مُعَطَّر ہے دِماغِ عالم تختۂ گلشنِ فردوس ہے روضہ تیرا
تیرے ذرّہ پہ مَعاصی کی گھٹا چھائی ہے اس طرف بھی کبھی اے مہر ہو جلوہ تیرا
تجھ میں ہیں تربیتِ خِضر کے پیدا آثار بحر و بَر میں ہمیں ملتا ہے سہارا تیرا
پھر مجھے اپنا درِ پاک دکھا دے پیارے آنکھیں پُر نور ہوں پھر دیکھ کے جلوہ تیرا
ظِلّ حق غوث پہ ہے غوث کا سایہ تجھ پر سایہ گُستَر سر خُدام پہ سایہ تیرا
تجھ کو بغداد سے حاصل ہوئی وہ شانِ رَفیع دَنگ رہ جاتے ہیں سب دیکھ کے رُتبہ تیرا
کیوں نہ بغداد میں جاری ہو ترا چشمۂ فیض بحرِ بغداد ہی کی نہر ہے دریا تیرا
کرسی ڈالی تری تختِ شہِ جیلاں کے حضور کتنا اُونچا کیا اللہ نے پایا تیرا
رَشک ہوتا ہے غلاموں کو کہیں آقا سے کیوں کہوں رَشک دہِ بدر ہے تلوا تیرا
بشر افضل ہیں مَلک سے تِری یوں مدح کروں نہ مَلک خاص بشر کرتے ہیں مُجرا تیرا
جب سے تو نے قدمِ غوث لیا ہے سر پر اَولیا سر پہ قدم لیتے ہیں شاہا تیرا
مُحیِ دیں غوث ہیں اور خواجہ مُعینُ الدّیں ہے
اے حسنؔ کیوں نہ ہو محفوظ عقیدہ تیرا

(ذوقِ نعت، ص27، 29)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

عن السید نصیر الدین محمود چراغ دهلوی عن السید السلطان نظام الحق
والدین محمد البدایونی عن السید فرید الحق والدین گنجشکر عن السید قطب الحق
والدین بختیار الاوشی الکاکی عن السید الاجل سلطان الهند حبیب الله
وارث النبی معین الحق والدین حسن الچشتی السجزی الاجمیری رضی الله تعالی عنه


الچشتی عن ابیه الخواجه ناصر الدین ابی یوسف بن محمد الچشتی عن خاله
الخواجه محمد بن ابی احمد الچشتی عن ابیه الخواجه ابی احمد الابدال الچشتی
عن الخواجه ابی اسحاق الشامی عن الخواجه ممشاد علو الدینوری عن
الخواجه هبیرة البصری عن الخواجه حذیفة المرعشی عن السلطان
ابراهیم بن ادهم البلخی عن الخواجه فضیل بن عیاض عن الخواجه عبد الواحد
بن زید عن الخواجه حسن البصری عن امیر المومنین وامام المسلمین
سیدنا علی المرتضی کرم الله تعالی وجهه عن سید المرسلین خاتم
النبیین احمد المجتبی محمد المصطفی صلی الله تعالی علیه وعلیهم وسلم

قاله بفمه وامر برقمه عبد المصطفی احمد رضا
القادری البرکاتی البریلوی عفی عنه
بمحمد المصطفی النبی الامی صلی الله
تعالی علیه وعلی آله وصحبه
وبارک وسلم
آمین

(تذکره مشائخ قادریه رضویه، ص465، 466)

www.dawateislami.net

د راتلونکې اونۍ مجله





978-969-722-591-0

01082461

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net